سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۳/۳۱

# ډاکټران که ملائکې او نرسان که پرېښتې؟

د کرونا او بلې هرې ناروغۍ په وړاندې د نړۍ د ډاکټرانو، نرسانو او نورو ټولو طبی خدمتونود کارکونکو لوړ انسانی خدمات او هلې ځلې د ډېر ی ستاینی او قدردانی وړ دی. زه د دوی د فداکاریو احسان مند یم، نورڅه نه لرم خو دا یوه قطعه شعر ورته ډالی کوم:

ملائکې د اسمان دی، که د ځمکې ډاکټران؟

پرېښتې به وي د مینې، که به وی زمونږ نرسان؟

په خندا د اور لمبو ته، چې ورځی او ویره نه کا

کارکونکي د روغتون دي، که دي حورې او غلمان؟

چې اینی سر په غېږ کی، د رنځور لکه د مور دی

دي د سپینو کالیو حورې،که دي لوڼي د انسان؟

ښځوي یوه ته اوښکې، بل ته خاندی او نڅا کا

خوري یوه ته د زړه وینې، ورکوی بل ته ګلان

خدایه! دا څنګه مخلوق دی، پیداکړی تا په ځمکه؟

چې د بل د ژوند پاره، تیرله سردی هم له ځان



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د زمان په دی شیبو کی، که طبیب نشته بـل نشته
د (الله ج) نـژدې ملګـري، د (الله ج) پیغـمبـران

درناوی له یی سرتیټ کړئ، ای مغـرورو بنیادمو
چی ساتي مو د حملو نه، د وحشت او د شیطان

د روغتیا د کارکونکو، د هیمت او د جرئت نه
صدقه شه په دی ځمکه، ټول د ځمکې دُښمنان

مارچ/۲۹/۲۰۲۰
ایجکس - تورنتو- کاناډا

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!